# قسم دی زما په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده خامخا به د پخوانيو په طريقو به لاړ شئ

له ابو واقد ليثي رضی الله عنه څخه روايت دی چې: کله رسول الله - صلی الله عليه وسلم - حنين لورې ته ووت نو د مشرکانو په يوه ونه تېر شو چې هغې ته يې ( ذات انواط ) ويلې - چې دوی به پکې خپلې وسلې ځړولې، نو دوی وويل: ای د الله رسوله! مونږ ته هم يو ذات انواط وګرځوه لکه څرنګه چې دوی ذات انواط لري، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: «سُبْحَانَ اللهِ! هَذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى {اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ} [الأعراف: 138] وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَّةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ». «سبحان الله! دا داسې خبره ده لکه د موسی قوم چې وويل: {اجْعَل لَّنَا إِلَـهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ} (ای موسٰی! زمونږ لپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوی لپاره معبودان دي)، [الأعراف سورت: 138 آيت] قسم دی زما په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده خامخا به د پخوانيو په طريقو به لاړ شئ«.

[صحيح]

رسول الله صلی الله عليه وسلم حنين ته چې د طائف او مکې تر منځ يوه دره ده، لاړ او له هغه سره يې څو اصحاب هم وو چې په دې وروستيو کې يې اسلام قبول کړی و. نو له يوې ونې څخه تېر شول، چې نوم يې "ذات أنواط" وه، يعنې هغه چې شيان ورپورې تړل کېدل، نو مشرکانو به يې تعظيم کاوه او خپلې وسلې او نور شيان به يې د برکت په موخه ورپورې تړل، نو له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه يې وغوښتل چې د دوی لپاره هم دې ته ورته يوه ونه وټاکي چې خپلې وسلې پرې د برکت په موخه وځړوي. فکر يې کاوه چې دا کار به جايز وي. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې خبرې په غندلو سره د الله جل جلاله حمد او ستاينه ادا کړه او ويې ويل چې دا خبره د موسی د قوم هغې وينا ته ورته ده چې ويېل يې: {اجعل لنا إلهًا كما لهم آلهة}،يعنې {زمونږ لپاره هم يو معبود جوړ کړه لکه څنګه چې دوی معبودان لري}. کله يې چې هغه کسان وليدل چې د بتانو عبادت يې کاوه، نو غوښتنه يې وکړه چې دوی هم داسې بتان ولري لکه مشرکان يې چې لري او دا د هغوی د تګلارې پيروي ده. بيا يې خبر ورکړ چې دا قوم به خامخا د يهودانو او نصاراوو لاره تعقيبوي او هغه څه به کوي چې دوی کړي دي، په دې اړه يې خبرداری ورکړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5927

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee